هر چا ته چې د دغو لوڼو پالنه ورپه غاړه شوه، نو نېک چلند يې ورسره وکړو، د اور له عذاب څخه به يې د ساتنې سبب وګرځي

د مؤمنانو له مور او د نبي صلى الله عليه وسلم له مېرمنې؛ عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې هغې نبي صلى الله عليه وسلم ته ويلي وايي چې: يوه ښځه د خپلو دوو لوڼو سره راغله او له مايې د مرستې غوښتنه کول، نو زما سره يوازې له يوې خرما پرته نور هېڅ نه و، هغې ته مې ورکړه، نو هغې د خپلو لوڼو ترمنځ ووېشله او بيا پاڅېده او لاړه، نو پېغمبر راغى، ما ورته دا پېښه بيان کړه، هغه وفرمايل: «هر چا ته چې د دغو لوڼو پالنه ورپه غاړه شوه، نو نېک چلند يې ورسره وکړو، د اور له عذاب څخه به يې د ساتنې سبب وګرځي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

د مؤمنانو مور عائشې رضي الله عنها وويل چې يوه ښځه د خپلو دوو لوڼو سره راغله او خواړه يې غوښتل، عائشې رضي الله عنها يوازې يوه خرما درلوده، هغې ته يې ورکړه، ښځې هغه خرما د خپلو لوڼو ترمنځ ووېشله او خپله يې تري هېڅ ونه خوړل، وروسته ولاړه، نو کله چې پېغمبر راغى، عائشې ورته دا پېښه بيان کړه، هغه وفرمايل: چاته چې د دې لوڼو پالنه ور تر غاړې شوه او نېک چلند يې ورسره وکړ، ښه روزنه يې ورکړه، خواړه او څښاک يې ورکړل، په جامه يې پټې وساتلې او صبر يې پرې وکړ، نو د نومورې لپاره به يې د اور پر وړاندې پرده وګرځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3358